# د بابو جان د قومیت مسئله

## The Mystery of Babu Jan′s Nationality

ډاکټر بدرالحکیم حکیمزی♣
ډاکټر نصر الله خان بټو♥

**Abstract:**

In the history of Pashto literature, a lot of prominent and important poets and authors are not yet clearly identified in respect of racial, national, tribal back-ground and even place of birth and death like Ali khan, Hafiz Alfori and some others, even Babo Jan also had not yet perfectly introduced so this research article will hopefully helpful to point out his national and native identity. As a result, a clear sketch of his personality would be possible to drawn. By understanding his national and native back ground his literary work would become easy and much more comprehensive for researchers and critics.

**Key words :** Pashto Literature, Pashtoon Nationalism, Babu Jan's Nationality, Mystry.

په پښتو ادب تاریخ کښې ګڼ شمېر داسې نامتو کسان شته چې د پښتو ادب د پراختیا او پرمختیا لپاره ئې ډېر کار او زیار کړی دی. خو د خپل ځان، ژوند او د ځان سره په اړوندو چارو چپ پاتې شوي دي ، ځکه خو ئې پېژندګلو تته پاتې شوې ده. د دغه شان کړکېچ لپاره د حافظ الپوری، علي خان او رحمان بابا نومونه اخیستی شو. بابو جان هم په دغه قطار کښې کښې ولاړ دی. د هغهٔ د نسبي پېژندګلو په ترڅ کښې د تاریخپوهانو رایې یو تر بله تو پیر لري ـ دغه شخړه یوې سمې او غوڅې پرېکړې ته پامته داره ده . بابو جان چې د کلاسیکي دورې یو نامتو نثرنګار او اولسي شاعر دی۔ نوموړی اټکل په ۱۶۲۴ء کښې زېږېدلی او په ۱۶۹۴ء کښې وفات شوی دی . د مغل اورنګزېب دوره ئې لیدلې ده، د خوشحال خان خټک او اخون ثالاک همعصر دی.

د پښتو ادبیاتو په تاریخ کښې چې چا د بابو جان د نسب او قومیت په حقله تر ټولو وړاندې خبرتیا ورکړې ده، هغه ختیځ پوه مېجر راورټي دی، هغه لیکي:

> "the works of babo jan a converted siah posh kafir, who, having acquired a great name amongst the muhammadans for his learning"(1)

**ژباړه**: بابو جان چې اسلام ته راوړېدلی یو سیاه پوش کافر وهٔ، د خپل علم له مخه ئې په مسلمانانو کښې یو لوی نوم وګاټهٔ۔

♣ Lecturer, Bacha khan University, Charsada, Khyber Pakhtunkhwa.

♥ Assistant Professor, Islamia College,University of Peshawar.

سیاه پوش کافران د افغانستان په لغمان سیمه کښې اوسېدل. ځکه خو د بابو جان له نوم سره د لغماني نسبتي نوم وتړل شو. هر څو کۀ مېجر راورټي د خپلې دعوې په تکیه د کوم اخځ یا ماخذ حواله ورکړې نۀ ده، خو ګڼ شمېر ادبي تاریخ لیکونکو د هغۀ خبره منلې او ورسره یوه خُلۀ شوي دي. د بېلګې په توګه میر احمد شاه رضواني په بهارستان افغاني کښې د راورټي خبره تائیدوي او زیاتوي، لیکي:

"بابو جان چې د هغۀ فضیلت او شاعري او خبرې په پښتنو نهایت ډېره مشهورې دي .... دا هم په اصل د سرو کاپرو د ملک وۀ چې په لوټ تالان کښې یو ملا راوستی وۀ او بیا ئې په زوي نیولی وۀ." (2)

د راورټي دعوىٰ پوهاند عبدالحئي حبیبي هم تائید کړه او په "پښتانۀ شعراء" کښې ئې ولیکل:

"د پښتو ادب په تاریخ کښې بابو جان لغمانی نوم یو شاعر مشهور دی چې د مسټر راورټي په قول اول سور کاپر وۀ او بیا وروسته مسلمان شوی وۀ." (3)

پوهاند صدیق الله رښتین هم د راورټي په رایې بسیا کوي، لیکي:

"مسټر راورټي وائي چې دی د نورستان له کافرو څخه وۀ چې وروستۀ بیا مسلمان شوی دی." (4)

شهسوار سنګروال هم د راورټي د دریځ ملاتړ کوي.

په ډاګه ده چې مېجر راورټي وړومبی څېړنکار دی چې بابو جان پښتو ادب ته راپېژني. کله چې هغه د لغماني له سرو کافرو سره د بابو جان نسبي پېوستون ښودلی دی نو د پښتو ادب تاریخ هم د لغماني په نوم ورته په خپلو پاڼو کښې ځای ورکړی دی. خو وروسته ځینې داسې څېړنې منځ ته راغلې چې د راورټي دعوىٰ ئې شکمنه کړه او د هغې سم والي ته ئې ګوته ونیوه. په دغو پوهانو کښې یو همېش خلیل دی چې د راورټي له رایې سره اړېیچ لري. په "ورکه خزانه" کښې لیکي:

"کۀ بابو جان په رښتیا د بلورستان سور کافر وۀ نو دا خبره د عقل او قیاس نه لرې ده چې د بلورستان یو سړی چې پښتو د هغۀ مورنۍ ژبه نۀ وي، دومره زر دې په کښې کمال ته ورسي او بیا شاعري دې په کښې هم وکړي .... کېدی شي چې د بابو جان پلار یا نیکۀ په اسلام د مشرف کېدو نه پس چرته د پښتنو علاقې ته راغلي وي او بابو جان هلته پېدا شوی او لوی شوی وي .... یوسفزو کښې د دۀ باره کښې دا هم مشهور ده چې بابو جان په قام یوسفزی دی". (5)

مطلب همېش خلیل ئې لغمانیتوب په کلکه نه ردوي بلکې د پلار نیکۀ د مسلمانېدو امکان ئې په ګوته کوي. ورسره ئې د یوسفزئ قبیلې سره د تړون مقامي روایت ذکر کول هم ضروري ګڼې. په دې ترخ کښې هېواد مل په سپینو ټکو کښې وائي چې:

"بابو جان نهٔ د لغمان دی او نهٔ د بلورستان د سیمو دی۔ د محققینو د تحقیق له مخې یوسفزی دی".(6)

د عبدالشکور رشاد دریځ دا دی چې:

"د بابو جان په عربۍ ژبه پوره او صحیح پوهېدل، هم د راورټي خبره ماتوي او دا منل ګرانېږي چې د بلورستان سور کافر دی".(7)

"سلیم بنګش ورته په بله زاویه ګوري او دا ګومان ښکاره کوي چې شاید د سوئیلي پښتونخوا د بوستان سره ئې تعلق وهٔ". (8)

تر دې ځایه شوی بحث دا خبره په ډاګه کوي چې بابو جان په قام د لغمان سیاه پوش کافر، یوسفزی یا بیا بوستانی دی.

د بابو جان د قومیت په حقله د هغهٔ د کلام داخلي شهادتونه د باوري ماخذ په توګه پکارول بې ګټې نهٔ پاتې کېږي ۔ دلته داسې بېلګې ترلاسه کېږي چې د هغهٔ د لغمانیتوب یعنې د سور کافر دعوې، یوسفزي یا بوستاني کېدو ته د ناپه دود اشاره کوي۔ دغه شهادتونه داسې لړۍ په لړۍ کېدی شي۔

1. د بابو جان چې څومره قلمي نسخې تر اوسه مخامخ شوې دي ،په هغوي کښې زیاتره د خټکو په لهجه لیکل شوې دي ۔ په زیات شمېر کښې د خټکو په لهجه کښې د هغهٔ کلام خوندي کېدل د بابو جان خټکوالي ته تته اشاره کوي.

2. د بابو جان په کلام کښې ګڼ شمېر داسې ځانګړې توري تر سترګو کېږي چې یوازې د خټکو له ګرد ود سره تړاو لري،لکه کټېدل د بې زارېدو په معنیٰ، غرندی د غري په معنیٰ اوره د وریځ په معنیٰ، سهمان د مجبورېدو په معنیٰ، ولل د وینځلو په معنیٰ او داسې نور یو شمېر د خټک لهجې توري د بابو جان په وېنا کښې ځای کېدل، د هغهٔ په خټکوالي ګواهي کوي۔

3. د بابو جان په کلام کښې بلها داسې ټکي شته چې د خټکو د ګرد ود سره سم د وینګ ځاندره غوره کوي ۔ لکه لږ په ثریا ثرکې، غوښه په غوشه، پوښتنه په پوشتنه او داسې نور ۔ د بابو جان په کلام کښې ځینې داسې توري هم شتون لري چې "شین" ئې په شمالي لهجه کښې هم په "شین" وئیل کېږي لکه دلکش، مېشتهٔ، رشته او داسې نور:

لکه د بابو جان دا شعرونه:

"له اوبو شي وینه غوښه
ښهٔ صورت روغ شي دلکښه"(9)

"یو لک څلیرشت زره ئې وېښتۀ دي
زیات یا کم هم په صورت باندې مېشتۀ دي"(10)

د داسې ټکو په شمالي لهجه کښې ئې د "ښین" سره قافیه بندي سمه نۀ ده.
ښکاره ده چې د دلکش او مېشتۀ "ش" په "ښ" نۀ اوړي. کله چې د "ښ" په قافیه راغلي دي نو په ډاګه کوي چې بابو جان د غوښې او وېښتو "ښ" هم په "ش" پکاروي. ځکه خو ورسره د دلکش او مېشتۀ قافیه ترې. دا عمل ئې د خټکوالې لهجې استازیتوب کوي.

4. د خټکوال ګړدود یوه خاصه دا ده چې "و" په "ي" اړوي. د بابو جان په کلام کښې هم دغه وینګ تر سترګو کیږي. لکه:

"دا خبره ده شیرینه
کۀ څوک د زړۀ فهم لرینه
په هر لور چې زړۀ روان شي
پسې دروميي قدمینه"(11)

په ډاګه ښکاري چې د "قدمونو" و په "ي" اوښتی دی.

5. خټک قبیله "ورکول" د "ویرکول" په غرېزه ښه وائي. د بابو جان په کلام کښې ئې نمونې شته لکه:

"د مرغیو وار ئې تېر کړو
جنات ئې په ملک ډېر کړو
څوارلس لکه اوۀ کاله ئې مهلت
و دوي ته ویر کړو"(12)

په دې وېنا کښې بابو جان د "تېر" او "ډېر" د قافیې سره د "ور" لفظ په "ویر" راوړی دی.

6. خټک د پښتو مصدر "اورېدل" د "اروېدل" په شکل کښې ادا کوي. بابو جان هم ډېر ځایه د خټکو د لهجې پیروي کړې ده لکه :

"د قارون د خزانو حکایت وارو
چې بې مثله بې مثاله بې شمار وه
بیا هله پښېمان به شې شومه بخیله
اوس شې کوڼ د بابو جان خبرې مۀ اروه"(13)

په دې نظم کښې انبار وه، ګواروه، باروه په غرېيز اهنګ قافيې راوړل شوې دي ـ ورسره د اورېدل په ځائې له اروېدل مصدره د "واروه" او "مۀ اروه" په شکل کښې د امر و نهي له صيغو قافيې جوړې شوې دي، چې د خټکو له ګرِدود سره ډېره لګوي ـ دا داخلي شهادتونه ئې ډاګيزه اشاره کوي چې بابو جان خټک او لهجه ئې خټکواله ده ـ هر کله چې د بابو جان زياتره قلمي نسخې د خېبر پښتونخوا له جنوبي برخې تر لاسه شوي دي ـ په خټکواله لهجه کښې خوندي شوې دي ـ د خټکو د لهجې ځانګړې توري په ګڼ شمېر کښې لري او د ځينو تورو ګرِدودي وينګ ئې هم د خټکو دی ـ نو په ډاډه زړۀ وئيل کېدی شي چې بابو جان خټک دی.

## حوالې


1) Major H G Ravery, Grammar of the pukhto, Pashto, or language of the Afghans, De chapzai, printers, publisers, book, sellers, stationars, S.I. E Kohat Road, Peshawar, Pakistan, 1981, AD-P-33

2) رضواني مير احمد شاه، شمس العلماء، قاضي، بهارستان افغاني، اداره اشاعت سرحد، پشاور، ۱۹۵۶ء، مخ ۳۵

3) حبيبي عبدالحئي، پښتانه شعراء، اوله حصه، پښتو ادبي مرکز، پاکستان، سرايې نورنګ بنو، ۱۹۸۴ء، مخ ۵۲

4) رښتين، صديق الله، د پښتو د ادب تاريخ، عمومي مطبعه، کابل، ۱۳۲۵ هـ ش، اګست ۱۹۴۶ء، مخ ۴۵

5) همېش خليل، ورکه خزانه، دارالتصنيف، بابو حيدر روډ جهانګير پوره، پېښور، اول ټوک، اول ځل، ۱۹۶۰ء، مخ ۴۱۴

6) هېواد مل زلمی، تعليقات، تذکرة الشعراء، کابل، ۱۳۶۶ هـ ش، مخ ۲۹۰

7) رشاد عبدالشکور، پوهاند، په ګلشن روه کښې د بابو جان منتخبات نثر نه دی، علامه رشاد اکاډمي، کندهار افغانستان، ۲۰۰۷ء، مخ ۴۶

8) سليم بنګش، د بابو جان مجموعه، پښتو اکېډيمي، کوټه، بلوچستان، ۲۰۱۴ء، مخ ۳۹

9) بابو جان، ديوان (قلمي نسخه)، نمبر ۹۲، لائبرېري، پښتو اکېډمۍ پېښور پوهنتون، خيبرپښتونخوا

10) بابو جان، ديوان (قلمي نسخه)، نمبر ۱۹۲، لائبرېري، پښتو اکېډمۍ پېښور پوهنتون، خيبرپښتونخوا

11) بابو جان، ديوان (قلمي نسخه)، نمبر ۳۳۹، لائبرېري، پښتو اکېډمۍ پېښور پوهنتون، خيبرپښتونخوا

12) بابو جان، ديوان (قلمي نسخه)، نمبر ۴۸، لائبرېري، پښتو اکېډمۍ پېښور پوهنتون، خيبرپښتونخوا

13) بابو جان، ديوان (قلمي نسخه)، نمبر ۳۳۹